# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**9 سرطان _سال 1401**




Email: webmorr@gmail.com Media@morr.gov.af
پته: د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، د جنګلک فابریکی شاته ، ۷ ناحیه کابل افغانستان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

متن کامل اخبار------------------------------------------------------------------------------------------4
په خوست ولایت کې څه د پاسه زرو کورنیو سره بشري مرستې وشوې---------------------------------------------4
یش از هزار مهاجر افغان از ایران وپاکستان برگشت نمود ---------------------------------------------------------5
بیش از دو هزارخانواده در شماری از ولایت مدد رسانی شد -------------------------------------------------------6
بیش از ۲۰۰ مهاجر به دست گارد ساحلی یونان افتادند-----------------------------------------------------------6
بېربوک په تبعید کې له افغانانو سره د مرستې ژمنه وکړه----------------------------------------------------------8
له آلمان څخه د کډوال کېدونکو شمېر زیات سوی دی --------------------------------------------------------------8
پاریس: د کم سنه کډوالو د اصلي عمر د معلومولو دنده فرانس تېر دزیل اداري ته سپارل شوې -------------------- 10
واژگونی قایق مهاجران در مدیترانه؛ زن حامله جان باخت و ۲۲ تن ناپدید اند ------------------------------------ 12
نیروهای یونانی در سه روز گذشته مانع ورود ۱۱۳۰ پناهجو به این کشور شدند --------------------------------- 14

# متن کامل اخبار

## په خوست ولايت کې څه د پاسه زرو کورنيو سره بشري مرستې وشوې

د وزارت ويب سايت




**دخوست ولايت د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو رياست د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني په شتون کې د روان کال د چنګاښ په (۷) نيټه د زلزلې له امله له (۱۵٦۸) بې ځايه شويو کورنيو سره د خوراکي او غير خوراکي توکو مرسته وشوه .**

**ياده شوې مرسته د الحاج احمدشاه فقيري خيريه بنسټ له لوري له (۱۰۰) کورنيو سره يوه بوجۍ وريجې، ۳ ليټره غوړي، ۲۵ کيلو اوړه، ۵ قالينې، او يو کمپل، د پاملرنې موسسې له لوري د کورنۍ کيټ، د الکوزي شرکت له لوري**

(۵۰۰) کورنیو ته، یوه بوجی اوړه، ۱۰ کیلو وریجی، ۵ لیټره غوړي، یو کارټن تور چای، ۱۲ کیلو گرامه نخود، لوبیا، او دال، د خوراک نړیوال سازمان له خوا (۴۶۸) کورنیو ته اوړه، غوړي، مالگه او بیسکټ، ورکړل شوه.
او د (IOM) موسسې له لوري، کورني، ژمیني، بیرني کیتونه، خیمې او د سولو کڅوړې شتون لري، چې په مرکز کې وویشل شوې.

## یش از هزار مهاجر افغان از ایران وپاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت



به اساس معلو مات آمریت سرحدی اسلام قلعه ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت هرات یک هزارو 391 تن مهاجرافغان ازکشورایران، به تاریخ 6سرطان وارد کشور شدند.
به گفته منبع از میان افراد مذکور(18)خانواده، شامل (80 ) نفر همراه با (234 )تن افراد مجرد طور جبری و(67)خانواده شامل ( 286) نفر همراه با ( 791)تن افراد مجرد بصورت داوطلب برگشت نموده بودند.

**منبع علاوه نمود که ( 63)خانواده شامل ( 253) نفروهمچنان ( 44)تن افرادمجرد و( 15 )طفل غرض دریافت کمک، به دفترمحترم IOMودفترمحترمWAR CHILDمعرفی شدند.**
**طبق یک خبر دیگر 14 خانواده مهاجرافغان مقیم پاکستان که شامل 113 نفر فاقد مدرک بودند، به تاریخ 7 سرطان ازطریق مرز سپین بولدک به وطن برگشتند.**

## بیش از دو هزارخانواده در شماری از ولایت مدد رسانی شد

ویب سایت وزارت




**برای دو هزارو 406 خانواده مستحق ، مساعدت موسسات را به هماهنگی ریاست های امور مهاجرین وعودت کننده گان ولایات جوزجان ، تخار ، زابل ، غزنی ، بدخشان ، بلخ ، سمنگان ، بغلان ،به تاریخ 7 سرطان بدست آوردند.**
**مساعدت یادشده به هر یک از 527 خانواده در جورجان پول نقد مبلغ 60 دالر امریکایی ازجانب موسسه کپو، برای 898 خانواده در بدخشان مبلغ 420 دالر امریکایی ، و به 409 خانواده در زابل مبلغ 700دالر امریکایی پول نقد ، به 41 خانواده در سمنگان به هریک از 31 فامیل 550 دالر امریکایی و به 10 خانواده مبلغ 330 دالر امریکایی ازطرف اداره UNHCR ، برای 57 خانواده در ولایت بلخ مبلغ 20 هزارو 330 افغانی از طرف دفتر میرسی کورپس ، به 18 خانواده در غزنی در دو کتگوری مبلغ 26 هزار افغانی و 18 هزار افغانی از جانب اداره CHA ، به 409 خانواده در بغلان مبلغ 105 دالر امریکایی ، به 47خانواده در تخار به همکاری سازمان بین المللی مهاجرت یا IOM درکتگوری های مختلف مبلغ 22 هزار،16 هزار و15 هزار افغانی پول نقد بود.**

## بیش از ۲۰۰ مهاجر به دست گارد ساحلی یونان افتادند

مهاجر نیوز



گارد ساحلی یونان و پرسونل یک کشتی باربری که در حال عبور از نزدیکی جزیره کرت بود، روز سه شنبه حدود ۲۲۰ مهاجر را در برابر این جزیره نجات دادند .

رادیو و تلویزیون دولتی یونان با رجوع به گارد ساحلی این کشور گزارش داد، مهاجران بر بنیاد نخستین اطلاعات سفرشان را در یک قایق ماهیگیری از لبنان آغاز کرده و در مسیر ایتالیا در حرکت بودند.

این قایق که موتور آن تخریب شده بود، در فاصله حدود ۶۰ مایل دریایی در جنوب شرق جزیره "کرت" شناور بود و نتوانست به حرکت ادامه دهد. حالا قرار است این مهاجران در یک کمپ ثبت و راجستر در جزیره "کاوس "اسکان داده شوند. در ماه های تابستان قایق های بادی و تفریحی زیادی به بخش شرقی بحیره مدیترانه می آیند.

به این خاطر به گفته ماموران گارد ساحلی یونان، پیدا کردن قایق های قاچاقبران که مهاجران را حمل می کنند، کار دشوار است.

روز دوشنبه، نهادهای دولتی در جزیره قبرس متوجه قایق دیگری شدند که با حدود ۱۰۰ سرنشین در جنوب غرب این جزیره به سوی "کرت" حرکت می کرد.

در جریان سفر از طریق بحیره مدیترانه، موتورهای قایق ها در اغلب موارد تخریب شده و یا سوراخ می شوند. قایق هایی که باندهای قاچاقبران استفاده می کنند، در اکثر موارد بسیار قدیمی و از کار افتاده هستند. هنوز معلوم نیست که چه تعداد از انسان ها جانش را در این راه از دست داده اند.

## بېربوک په تبعید کې له افغانانو سره د مرستې ژمنه وکړه

دویچه وله

د آلمان د بهرنیو چارو وزیرې په تبعید کې له افغانانو سره د آلمان پر مرستو ټینګار وکړ، همدا راز له هغوی سره هم چې په افغانستان کې ژوند کوي. نوموړې په عین وخت کې یوې بلې مهمې مسئلې ته هم اشاره وکړه.




د بهرنیو چارو وزیرې انالېنا بېربوک، د افغان مدني ټولنې او همدا راز له هغو افغانانو سره هم د مرستې ژمنه کړې ده چې له افغانستان څخه یې آلمان ته پناه را وړې ده. بېربوک د اړونده موضوعاتو یوه کنفرانس په ترڅ کې وویل: «د آلمان حکومت د افغانستان او افغانانو ترڅنګ ولاړ دی».

## له آلمان څخه د کډوال کېدونکو شمېر زیات سوی دی

دویچه وله

د کرونا پاندمي پر وخت له آلمان څخه و نورو هیوادونو ته د کډوال کېدونکو او په همدې توګه راتلونکو مهاجرو شمېر کم سوی ؤ. خو اوس دغه شمېرې بېرته لوړې سوي دي.




**تېر عيسوي کال له آلمان څخه دباندې وتونکو او کډوال کېدونکو په پرتله د نوو راتلونکو کډوالو او آلمان کې مېشت کېدونکو شمیر ۳۳۰ زره زيات ؤ. په دې توګه نو و آلمان ته د نوو راتلونکو کډوالو شمیر د کرونا پاندمي څخه مخکې شمېرو ته نژدې سوی دی. د آلمان د خبري آژانس د خبر له مخې د احصاييو لپاره د آلمان ځانګړې فدرالي اداری د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۲ کال د جون ۲۸ نېټه) يادې شمېرې په ويسباډن کې د رسنيو سره شريکې کړې.**

**د آلمان يادې فدرالي اداری ويلي دي چې د کرونا پاندمي په لومړي کال يعنې ۲۰۲۰ کې و آلمان ته تقريبا ۱،۳۲ ميليونه نوي کډوال راغلي او له آلمان څخه ۹۹۴ زرو څخه انسانان کډوال سوي ول. په دې توګه نو په ياد کال له تلونکو څخه تقريبا ۲۲۰ زره زيات راتلونکي کسان ول.**

**د کرونا پاندمي په لومړي يعنې ۲۰۲۰ کال له آلمان څخه د کډوال کېدونکو يا تلونکو په پرتله د راتلونکو کډوالو شمیر تقريبا ۲۲۰ زره زياته ؤ.  په ۲۰۲۱ کال په تولیزه توګه له آلمان څخه ۹۶۶ زره انسانان د نړۍ نورو هيوادونو ته کډه سول او آلمان ته تقريبا ۱،۳۲ مليونه نوي کډوال راغلل. په دې توګه نو د ۲۰۲۰ کال په پرتله و آلمان ته په ۲۰۲۱ کال د راتلونکو کډوالو شمیر  ۱۲ سلنه او له آلمان څخه د تلونکو شمیر ۳ سلنه جګ ؤ.**

**د آلمان د احصاييو د فدرالي اداری د معلوماتو پر اساس په ۲۰۲۱ کال و آلمان ته له نوو راغلو کډوالو څخه ۱،۱۴ ميليونه او له آلمان څخه د تلونکو يا له آلمان څخه بيرون کډوال کېدونکو څخه ۷۴۶ زره يې بهرنيان يا غير آلماني تابعيت لرونکي ول.**

و آلمان ته له راغلو تر ټولو زيات کډوال له روماني، ترکيي او بلغاريي څخه ثبت سوي دي. په آسيايي هيوادونو کي تر ټولو زيات آلمان ته راغلي کډوال له سوريې او افغانستان څخه ول.

يادي فدرالي اداري راپور ورکړی چي له ۲۰۰۴ کال راهيسي په دوامداره توګه د هغو کسانو په شمير کي استقرار پاته سوی چي له آلمان څخه کډوال کيږي. هغه کسان چي له آلمان څخه کډوال کيږي، د اکثريت کسانو هدف سويس، اتريش او د امريکا متحده ايالات وي. ويل سوي چي د پاندمي پر وخت له آلمان څخه تر ټولو زيات کډوال و پاراګوای او سوېډن ته تللي دي.

د آلمان د ايالتونو په دننه کي له يو ايالت څخه بل ايالت ته د کډاول کېدو شمېر ۱،۰۶ مليون کسان ښودل سوي دي. د مخکني کال په پرته په ۲۰۲۱ کال په دغو شمير کي د ۳ سلنې زياتوالی راغلی.

## پاريس: د کم سنه کډوالو د اصلي عمر د معلومولو دنده فرانس تېر دزيل اداري ته سپارل شوي

مهاجر نيوز



د فرانسي پلازمېنه پاریس کې به د جون میاشتې له ۳۰مې نېټې وروسته د کم سنه کډوالو د اصلي عمر د معلومولو دنده فرانس تېر دزیل اداري ته سپارل کېږي. تر دې وراندې د سره صلیب سازمان دغه دنده پر مخ وړله .

پاریس کې به د رواني میاشتې له ۳۰ نېټې وروسته د کم سنه کډوالو د اصلي عمر د معلومولو دنده د فرانس تېر دزیل اداري ته سپارل کېږي چې د دغه ښار په ۱۲مه ناحیه کې موقعیت لري. په تېرو شپږو کلونو کې دا دنده د سره صلیب سازمان پر مخ وړله.

د پاریس د ښاروالی مرستیالي او د ماشومانو د ساتنې مسولي دومینیک ورسیني کډوال نیوز سره خبرو کې وویل: «د سره صلیب سازمان د جون میاشتې تر ۳۰مې پورې د دمي ۷۵ یا د کم عمره او بې سرپرسته بهرنیانو د اصلي عمر د معلومولو دنده ترسره کوي او فرانس تېر دزیل د کډوالو د اصلي عمر د ارزول کېدو موده کې هغوی ته د سرپناه ورکولو مسولیت پر غاړه لري. خو د نوي سیستم په چوکاټ به دواړه کارونه د یوې اداري له خوا ترسره کېږي».

دغه نوي سیستم چې پاریس کې د بې سرپرسته او کم عمره کسانو هرکلي یا امنا نومېږي د جون په ۳۰مه پیلېږي. د دې سیستم په چوکاټ کې به په اونی کې د ۱۵۰ کډوالو اصلي عمر معلومېږي. یاده اداره د دوشنبې تر شنبې د سهار له ۹ د ماسپښین تر ۶ بجو پورې فعالیت کوي.

د فرانس تېر دزیل سازمان عمومي مشره دلفین رویو کډوال نیوز ته وایي چې د دغه نوي سیستم موخه اوسني وضعیت کې بدلون راوستل دي. هغه ژمنه کوي چې تنکیو ځوانانو ته د سرپناه ورکولو په برخه کې به نور اقدامات هم وکړي.

لومړی بدلون به د کم عمره کډوالو د روغتیایي وضعیت ارزونه وي. د یادې اداري ښوونکي مسولیت لري چې هر یو کډوال ته د عمر د معلومولو پروسې په هکله معلومات ورکړي. ورپسې د کډوالو روغتیایي وضعیت ارزول کېږي او څلور ورځې وروسته به د هغوی د اصلي عمر د معلومولو پروسه پیلېږي.

دغه نوې اداره په پام کې لري چې کډوالو ته د یادې پروسې پر مهال هوټلونو کې ځای ورکړي. دلفین رویو وایي چې دغه هوټلونه یوازې کم عمره کډوالو ته ځانګړي شوي دي او د ټولنیزو کارکونکو پرته کوم بل کس پکې نشته. ټولنیز کارکوونکي به له کډوالو سره د هغوی د اداري چارو د ترسره کولو په برخه کې مرسته کوي.

همداراز په پام کې ده چې د یادې اداري د کارکوونکي شمېر هم زیات شي. اوسمهال دومي ۵۷ یوازې ۲۷ کارکوونکي لري، خو امنا به ۳۸ کارکوونکي ولري چې په ډله کې یې ارزوونکي او روغتیاپالان هم وي. دلفین رویو وایي چې سر له پنجشنبې به په امنا کې یوه روغتیایي ډله هم خپل فعالیت پیلوي چې پکې یو روغتیاپال، یو روحي کارپوه او یا ډاکټر شامل دي.

دلفین رویو زیاتوي چې دوی د تنکیو ځوانانو د اصلي عمر د معلوم‌ولو لپاره خپل مېتودونه لري او ارزونکو ته یې د جیوپولیتکي مسایلو په برخه کې لارښوونه کوي. په وینا یې د فرانسي په بېلابېلو ډیپارتمنتونو کې د کډوالو د عمر د معلوم‌ولو پروسه ترسره کېږي، نو ځکه دوی په دغه برخه کې کافي مهارت لري.

نوموړي زیاتوي چې دوی په پام کې لري چې د تنکیو ځوانانو چارو ته په جلا جلا توګه رسیدنه وکړي. د هغې په وینا د دغې اداري کارکوونکي به د جسمي یا فزیکي معیارونو پر اساس پرېکړه نه کوي.

تر دې وړاندې د بشري حقونو سازمانونو په وار وار د سره صلیب سازمان پر دې تورن کړی چې له کډوالو سره چټکې مرکې کوي.

همدارنګه ځینو مهاجرو کډوال نیوز ته ویلي وو چې د عمر د معلوم‌ولو مرکې په جریان کې یې داسې احساس کاوه چې ارزوونکي ورته غوږ نه نیسي. دغه راز کله چې دوی د دومې کارکوونکو ته د خپل سفر او ستونزو په هکله معلومات ورکوي، یاد کارکوونکي فکر کوي چې ورته سفرونه د کډوالو له عمر سره تناسب نه لري.

د پاریس ښاروالۍ په حواله هر کال دومې ته د ۷۵۰۰ تر ۸۰۰۰ تنکي ځوانان مراجعه کوي چې ۳۴ سلنه یې مثبت ځواب ترلاسه کوي. خو هغو کسانو ته چې منفي ځواب ورکول کېږي، دوی کولی شي چې د استیناف غوښتنه وکړي. د یوتوپیا ۵۶ سازمان وایي چې په ۲۰۲۱ کې نږدې ۶۷ سلنه کډوالو استیناف محکمه کې مثبت ځواب ترلاسه کړی دی

## واژگونی قایق مهاجران در مدیترانه؛ زن حامله جان باخت و ۲۲ تن ناپدید اند

دویچه ویله

در اثر واژگون شدن یک قایق پناهجویان در دریای مدیترانه یک زن حامله جان باخت. دست کم ۲۲ تن دیگر از سرنشینان این قایق ناپدید اند و ۷۱ تن نجات یافته اند .

سازمان امدادی داکتران بدون مرز ناوقت روز سه شنبه اعلام کرد که به کشتی نجات این سازمان روز دوشنبه از وقوع این رویداد در نزدیکی سواحل لیبیا اطلاع داده شد. به گفته این سازمان، ۷۱ نفر از سرنشینان این قایق نجات داده شدند، اما یک زن حامله جان خود را از دست داد.

این سازمان گفته است که بعد از دریافت تماس اضطراری و درخواست کمک عاجل، زمانی که به ساحه رسیدند، بسیاری از سرنشینان این قایق مدت طولانی در آب بودند .بنا بر معلومات نجات یافته‌گان، دست کم ۲۲ نفر ناپدید اند. دو زن گفته اند که از کودکانشان خبری ندارند. یک زن جوان دیگر از ناپدید شدن برادر خوردسال‌اش خبر داده است.




عکس از آرشیف، پناهجویان در مسیر دریایی

**یک کارمند سازمان داکتران بدون مرز گفته است که نجات یافته گان این رویداد بسیار خسته اند، بسیاری از آنها مقدار زیادی از آب دریا را قورت داده اند و تعدادی نیز بعد از ساعت‌های طولانی ماندن در آب دچار سرما زده گی شده اند. او افزوده است که دست کم ده نفر که بیشتر شان زنان اند از سوختگی متوسط تا شدید رنج می‌برند و نیازمند درمان اند.**

**کشتی نیروی دریایی ایتالیا (بتیکا) روز چهار شنبه به کمک مهاجرانی شتافت که با یک قایق ماهیگیری در مدیترانه در حرکت بودند. در سال جاری بیش از 40 هزار مهاجر از مدیترانه گرفته شده و به ایتالیا منتقل شده اند.**




تصاویری از واژگون شدن قایق مهاجران در مدیترانه

**مسیر مرکزی دریای مدیترانه مرگبارترین راه رسیدن به اروپا برای پناهجویان به شمار می‌رود. با آنهم سالانه ده ها هزار نفر به خود جرئت می دهند که با قایق‌های کهنه و فرسوده از این مسیر دریایی عبور کنند.**

**بر بنیاد معلومات وزارت داخله ایتالیا از آغاز سال روان میلادی تا کنون تقریبا ۲۷ هزار نفر از سواحل افریقای شمالی با عبور از این مسیر دریایی خود را به ایتالیا رسانده اند .**

## نیروهای یونانی در سه روز گذشته مانع ورود ۱۱۳۰ پناهجو به این کشور شدند

مهاجرنیوز




عکس آرشیف: یک کشتی نیرو های دریایی یونان در دریای اژه. عکس از پیکچر الیانس

**مقامات یونان روز دوشنبه ترکیه را متهم کردند که در سه روز گذشته نزدیک به ۱۱۳۰ پناهجو را به جزایر این کشور فرستاده است. مقامات یونان می گویند گارد ساحلی این مهاجران را به ترکیه بازگردانده است.**

**یانس پلاکیوتاکیس، وزیر امور دریایی یونان روز دوشنبه گفت: «در سه روز گذشته، قاچاقچیان ترکیه تلاش کردند نزدیک به ۱۱۳۰ مهاجر را به جزایر یونان قاچاق کنند.**

وی در مصاحبه با رادیو ریل اف ام گفت که نیروهای دریایی یونان در ۲۴ حادثه جداگانه قایق های قاچاقچیان را از آب های خود عقب رانده اند. یانیس پلاکیوتاکیس در مصاحبه خود بار دیگر ترکیه را به نقض قوانین بین المللی متهم کرد و گفت که این کشور مردم بیچاره را در معرض خطر می دهد.

مرزبانان یونان در بیانیه ای اعلام کردند که قاچاقبران تلاش کردند تا ین مهاجران را به آب های یونان به ویژه جزایر لسبوس، خیوس، ساموس، کاس و رودس منتقل کنند. بر اساس این بیانیه، ۱۶ قایق حامل پناهجویان قصد داشت از قسمت جنوبی جزیره لسبوس عبور کند اما هیچ یک از آنها نتوانستند وارد آب های یونان شوند. سپس این مهاجران توسط نیروهای ترکیه نجات یافتند.

گروه های حقوق بشر و رسانه ها بارها یونان را به اخراج پناهجویان متهم کرده اند، اما مرزبانان می گویند که آنها بر اساس قوانین ملی خود برای کاهش فشار بر پناهجویان عمل می کنند. به گفته مقامات، یونان و اتحادیه اروپا از مرزهای دریایی مطابق با قوانین بین المللی و با اولویت دادن به نجات مردم در دریا محافظت می کنند.

در ماه می گذشته، مقامات یونان اعلام کردند که در یک روز مانع ورود ۶۰۰ مهاجر از ترکیه به یونان شده اند.

به گفته یک منبع از وزارت مهاجرت یونان، تعداد مهاجران از ترکیه به یونان در چهار ماه نخست سال جاری میلادی ۳۰ درصد افزایش یافته است.

در چند سال گذشته، مسائل مهاجرتی روابط میان یونان و ترکیه را تیره کرده است.

شایان ذکر است که ترکیه در ماه مارچ سال ۲۰۲۰ مرزهای خود را به سمت اروپا باز کرد و به هزاران مهاجر اجازه داد تا به یونان بروند. از سوی دیگر، یونان با کمک فرانتکس یا آژانس حفاظت از مرزهای اروپا، این پناهجویان را به ترکیه بازگرداند.

آتن در ماه گذشته نامه ای را به دبیرکل سازمان ملل ارسال کرد و از ترکیه خواست به تمامیت ارضی این کشور احترام بگذارد.